اونیزه مجله :352
WEEKLY BOOKLET:352

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُـهُمُ الْعَالِيَه د کتاب "فیضانِ نمازّ" یو قسط



# د خشوع او خضوع والا
# نمونځ

PASHTO

ورور اولګیدلو خو په لمانځه کښې مشغول اوسیدلو! 03
د جنّت واجب کیدلو مطلب 06
لمانځه کښې د اخوا دیخوا کتلو مسئله 13
د نظر ښکته ساتلو بهترینه طریقه 16

شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سنت د دعوتِ اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس
عطار قادری رضوی
دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

# خشوع او خضوع والا نمونځ

**دعائے عطّار:** یا ربّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله ”د خُشوع او خُضوع والا نمونځ“ ولولي یا واوري هغهٔ ته د سجدو خوندونه نصیب کړې، د هغهٔ ټول نمونځونه قبول کړې او د دواړو جهانو خیرونه ورکړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف پرچه په کار راغله (واقعه)

د قیامت په ورځ به د یو مسلمان نیکئ په میزان (یعني تَله) کښې کمې شي نو د ګنهګارو شفاعت کوونکي خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره به یوه پرچه وي هغه به را اوباسي او د نیکو په تله کښې به ئې کیږدي نو په هغې به د نیکو تله درَنه شي. هغه به عرض اوکړي: زما مور و پلار دې ستاسو نه قُربان شي! تاسو څوک ئې؟ حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به فرمائي: ”زه ستا نبي مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) یم او دا ستا دُرُود دے کوم چې تا په ما باندې رالیږلے وو.“

(کتاب حسن الظن باللّٰہ مع موسوعه ابن ابی دُنیا ج۱ ص۹۲ حدیث ۷۹ مُلَخَّصاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خُشُوع تعریف

د خُشُوع معنٰی ده: ”د زړه فِعل او د ظاهري اندامونو (یعني لاسو او پښو) عمل.“ (تفسیرِ کبیر ج۸ ص۲۵۹) د زړه فِعل یعني د **اللّٰه** پاک عَظَمت پیشِ نظر ساتل، [داسې چې] د دُنیا نه ئې توَجُّه لرې شوې وي او **نمانځه** کښې ئې زړه لګیدلے

وي. او د ظاهري اندامونو عمل يعني په سُکون ولاړ اوسي. اخوا ديخوا نه ګوري، خپل بدن او جامو سره لوبې نه کوي او څه عَبَث او بيکاره کار نه کوي.
(مأخوذ از تفسیرِ کبیر ج ۸ ص ۲۵۹، مدارِک ص ۷۵۱، صاوی ج ٤ ص ۱۳۵٦)

## نمانځه کښې "خُشُوع" مُسْتَحَب ده

**عَلَّامه** بَدرُ الدِّين عَيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په نمانځه کښې **خُشُوع مُسْتَحَب** ده. (عُمدةُ القاری ج ٤ ص ۳۹۱ تحت الحديث ۷٤۱) اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: **د نمانځه کمال [او] د نمانځه نُور، د نمانځه په ښه والي او فَهم و تَدَبُّر او حُضُورِ قَلب** (يعني خُشُوع) **کښې دے.** (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج ٦، ص ۲۰۵) مطلب دا چې د اعلٰى درجې نمونځ هغه دے کوم چې خُشُوع سره ادا کړے شي.

**الله** کريم په اَتَلَّسمه سيپاره **سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن** آيت نمبر 1 او 2 کښې اِرشاد فرمائي:

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴿۲﴾
(پ18، المؤمنون:21)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: بيشکه ايمان والا کامياب شول، کوم خلق چې په خپل لمونځ کښې خشوع و خضوع کوونکي دي.

"تفسیرِ صِراطُ الْجِنان" جِلد 6، صفحه 494 کښې دي: په دې آيت کښې ايمان والؤ ته زيرے ورکړے شوے دے چې بيشکه هغوئي د **الله** پاک په فضل په خپل مقصد کښې کامياب شو او د هميشه د پاره به جَنَّت ته داخل شي او د هر ناخوښه څيز نه به نجات حاصل کړي. (تفسیرِ کبیر ج ۸ ص ۲۵۸، روحُ البیان ج ٦ ص ٦٦ ملتقطاً) نور په صفحه 496 کښې دي: ايمان والا خلق د **خُشُوع و خُضُوع** سره نمونځ ادا کوي، هغه وخت د هغوئي په زړونو کښې د **الله** پاک ويره وي او د هغوئي اندامونه ساکن (يعني په يو ځائے سکون سره) وي.

## وور اولګیدلو خو په نمانځه کښې مشغول اوسیدلو!

**تابِعي** بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا مُسلِم بِن یَسار رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ به دومره په تَوجُّه سره نمونځ کولو چې د خپل خوا و شا نه به هُم خبر نه وو، یو ځل په نمانځه کښې مشغول وو چې خوا ته ئې وور اولګیدلو خو هغوئي ته هډو احساس هم اُونهٔ شو تر دې چې خلقو وور مړ کړو. (اللہ والوں کی باتیں ج۳ص۴٤۷)

## څلور مختصر حکایات

**حِکایَت** ﴿۱﴾: اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي چې حُضُور نَبِـيّ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زمونږ سره او مونږ به هغوئي سره خبرې کولې خو چې کله به د نمانځه وخت شو نو (مونږ به داسې شو) لکه هغوئي چې مونږه نه پیژني او مونږه هغوئي نه پیژنو. (اِحْیَاءُالْعُلُوم ج۱، ص۲۰۵) **حِکایَت** ﴿۲﴾: اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به په نمانځه کښې داسې وو لکه (ټک وهلے) میخ. **حِکایَت** ﴿۳﴾: بعضې صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان به په رُکوع کښې داسې مکمل سُکون کښې وو چې په هغوئي به مرغۍ کښیناستلې، لکه هغوئي چې د جَماداتو (یعني بے ساه څیزونو) نه وي. (اِحْیَاءُالْعُلُوم ج۱ص۲۲۸، ۲۲۹) **حِکایَت** ﴿٤﴾: بعضو صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان به فرمائیل: په ورځ د قیامت به خلق د نمانځه والا هَیئَت (یعني حالت) باندې پاڅولے کیږي یعني په نمانځه کښې چې چا ته څومره اِطمینان او سکون حاصل وي، هُم د هغې مطابق به د هغوئي حشر (یعني پاڅیدل) کیږي. (اَیضاً ج۱ص۲۲۲)

## اللّٰہ پاک د داسې نمانځه په طرف نظر نه فرمائي

**اللّٰہ** پاک د داسې نمانځه په طرف نظر نه فرمائي چې په هغې کښې بنده د خپل بدن سره زړه حاضر نه کړي. (اِحْیَاءُالْعُلُوم (اُردو) ج۱ص۴۷۰)

## نمانځه کښې به ئې مسلسل اوښکې بهیدلې

حضرتِ سَیِّدُنا سَعِید تَنُوخِي رَحمَۃُاللہِ عَلَیْہ به چې کله نمونځ کولو نو (دومره به ئې ژړل چې) د رُخسار (یعني اننګو) نه به ئې په ګیره باندې مسلسل اوښکې بهیدلې.
(اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص۴۷۰)

## په نمانځه کښې ظاهري او باطِني خُشُوع څه ته وائي

په نمانځه کښې خُشُوعِ ظاهري هُم وي او باطِني هُم، ظاهِري خُشُوع دا ده چې د نمانځه د آدابو مکمل رِعایت اوکړے شي، مَثَلًا چې نظر ئې د جائے نماز نه بهر لاړ نه شي او د سترګې په ګُوَټ کوم طرف ته نه ګوري، د آسمان په طرف نظر نه اوچتوي، څه عَبَث او بیکاره کار نه کوي، چې څه کپړه په اُوګو داسې نه اچوي چې د هغې دواړه طرفونه زوړند وي (خو که څادر ئې په دواړو اُوګو داسې واچولو چې د څادر یوه ډډه په بله ډډه د پاسه ور اووښتې وي نو بیا ئې که سرونه زوړند وي نو باک نشته)، ګوتو نه دې ټقونه نه اوباسي او داسې قِسمه حرکتونه دې نه کوي. باطِني **خُشُوع** دا ده چې د **اللّٰه** پاک په عَظمَت ئې نظر وي، د دُنیا نه ئې تَوَجُّه لرې شوې وي او نمانځه کښې ئې زړه لګیدلے وي.
(تفسیر صِراطُ الْجِنان، ج۶ ص۴۹۶)

## نمونځ څنګه پکار دے!

د **دعوتِ اسلامي** د **مَکتَبَةُ الْمَدِینه** د 63 صفحو کتاب "آدابِ دِین" صفحه نمبر 30 کښې دي: (نمونځ کوونکي ته پکار دي چې) د عاجزئ او **خُشُوع و خُضُوع** کیفیت پیدا کړي او حُضُورِ قَلب (یعني د زړه په تَوجُّه) **نمونځ** کوي، د وسوسو نه د بچ کیدلو کوشش دې کوي، په ظاهري او باطني طور دې تَوجُّه سره نمونځ کوي، اندامونه دې په سکون ساتي، نظر دې ښکته ساتي، (په قِیام کښې دې)

ښے لاس په ګټ لاس د پاسه ږدي، په تِلاوت کښې دې غور و فِکر کوي، په ویره ویره او په خوف دې تَکبِیر لولي، **خُشُوع و خُضُوع** سره دې رُکوع و سجود کوي، تعظیم و تَوقِیر سره دې **تَسْبِیْح** (یعني **سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الْعَظِیۡم** او **سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی**) وائي، او **تَشَهُّد** دې داسې لوَلي لکه **الله** پاک چې وِیني، (د رَحمَت خُداوندي) اُمِّید دې ساتي او سلام دې واړوي، په دې ویره دې اوګرځي (یعني واپس شي) چې معلومه نه ده چې زما نمونځ قبول شوے هُم دے او که نه! او د رضائے اِلٰهی طلب کولو کوشش دې کوي. (آدابِ دِین)

## د حضرتِ حاتِم اَصَم د نمانځه انداز

حضرتِ سَیِّدُنا **حاتِمِ اَصَم** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه د هغوئي د **نمانځه** په باره کښې تپوس اوکړے شو نو اُوئې فرمائیل: "چې کله د **نمانځه** وخت شي نو زه پوره اودس کووم، بیا د **نمانځه** ځائے له ورشم او کښینم تر دې چې زما ټول اندامونه په سکون شي، بیا نمانځه د پاره اودریږم او بیا دا خیال کووم چې کعبۂ مُعَظَّمه زما ورُوزو ته مخامخ ده، پُل صِراط زما د ښپو لاندې، جَنَّت زما ښي طرف ته او جَهنَّم زما کیڼ [ګټ] طرف ته او **مَلَکُ الْمَوت** عَلَیۡہِ السَّلَام زما شا ته دے او هغه نمونځ خپل **آخري نمونځ** ګڼم. بیا د اُمِّید او ویرې د مینځ په حالت کښې حقیقتاً **تکبِیرِ تَحرِیمه** وایم، قرآنِ کریم په واره واره [یعني قلاره قلاره] وایم. رُکوع تَواضُع (یعني عاجزئ) سره او سجده **خُشُوع** سره کووم. ګټه ښپه خوره کړم او په هغې کښینم او ښئ ښپه اُودرَوُوم. د ډیر اخلاص نه د کار اخستلو باوجود د هُم دې خبرې ویره لرم چې زما نمونځ به قبول شي او که نه!" (اِحۡیَاءُ الۡعُلُوم ج۱ ص۲۰۶) **د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

## جَنَّت واجِب شي

د حضرتِ سَیِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوایت دے: ما د **اللّٰه** پاک خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولیدلو چې په ولاړه ئې خلقو ته دا اِرشاد فرمائیلو: ''کوم مسلمان چې په ښه طریقه اودس اوکړی، بیا د ظاهر او باطِن د تَوجُّه سره دو رکعاته ادا کړي نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شي.'' (مُسلِم ص۱۱۸ حدیث ۵۵۳)

## د جَنَّت واجِب کیدلو مطلب

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د حدیثِ پاک د دې حِصَّې (جَنَّت واجب شي) په باره کښې فرمائي: د رَبِّ (کرِیم) په فضل و کرم داسې چې دُنیا کښې به هغه ته د نیکو اعمالو توفیق ملاویږي، د مرګ په وخت کښې به په ایمان قائم اوسي، قَبْر و حَشر کښې به په آسانئ سره پاس [یعني کامیاب] شي. د حدیث مطلب دا نه دے چې صرف اوداسه کولو او د تَحِیَّةُ الْوُضُو دوه نفلونه کولو سره جَنَّتي شو، (او) نور کښې د څه عمل ضرورت پاتې نه شو، (بلکه) د داسې قِسم حدیثونو هُم دا مطلب وي (کوم چې اوس بیان شو).
(مِراٰةُ المناجیح ج۱ ص ۲۳٦)

## خُشُوع سره نمونځ کول د ګناهونو کفّاره ده

د اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوایت دے: ما د **اللّٰه** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے چې په کوم مسلمان باندې د فرض نمانځه وخت راشي او هغه په ښه طریقه اودس اوکړي او خُشُوع سره نمونځ اوکړي او صحیح طریقه باندې رُکوع اوکړي نو هغه نمونځ د هغه د تیرو ګناهونو کفّاره شي تر څو چې هغه یوه کبیره ګناه

اونکړي او دا (يعني د ګناهونو د مُعافئ سلسله) هميشه وي (د يوې زمانے سره خاص نه دي) (مُسلِم ص ١١٦ حديث ٥٤٣)

## رُکوع نه مُراد دلته پوره نمونځ دے

**عَلَّامه** عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحۡمَةُاللهِ‌عَلَيۡه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: د **رُکوع** نه مُراد د نمانځه ټول ارکان دي يعني چې هغه د نمانځه ټول ارکان په ښه طريقه او **خُشُوع** سره ادا کړي او د ټولو ارکانو په ښه طريقه د ادا کولو مطلب دا وي چې هر رُکن په پوره طريقه (يعني د سُنَّتو وغيره د لحاظ ساتلو سره) ادا کړے شي. (نور دا فرمائي:) نمونځ به د صغيره (يعني ورو) ګناهونو د پاره کفّاره وي، د کبِيره (يعني غټو) ګناهونو د پاره نه، ځکه چې کبيره ګناهونه په **نمانځه** نه معاف کيږي (د کبيره ګناهونو د معافئ د پاره به توبه او د هغې تقاضے پوره کول ضروري وي) او دا مطلب نه دے چې وړې ګناه به صرف هغه وخت معاف کيږي چې کله غټې ګناهونه نه وي (بلکه د غټو ګناهونو په موجودګئ کښې به هم واړه ګناهونه معاف کيږي، دا (يعني د ګناهونو د مُعافئ سلسله) هميشه وي) يعني که هره ورځ هُم د هغه نه (**مَعَاذَالله**) صغيره ګناهونه کيږي او هغه فرائض په پوره طريقه ادا کړي نو هر فرض به د خپلو [ادا کيدلو] نه **مخکښې** شوو ګناهونو کفّاره شي. (التيسير ج٢ ص٣٥٨)

## بِالقَصۡد (يعني اِرادَتاً) ګناه کول

**اے د معافئ طلبګارو!** په نمانځه باندې د صغيره ګناهونو د معاف کيدلو نه دې **مَعَاذَالله** څوک دا مطلب نه اخلي چې ګنې صغيره ګناهونه کوه او بيا **نمونځونه** کوه معاف کيږې به. ياد ساتئ! صغيره ګناه په صغيره يعني وړه ګڼلو باندې کولو سره هغه سخته کبيره ګناه جوړه شي او صغيره ګناه سپکه ګڼل

بعضو صورتونو کښې کفر دے. په دې باندې ځان پوهه کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَکتَبَةُالْمَدِیْنه د 692 صفحو کتاب، "**کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب**" صفحه 385 تا 396 نه بعضې "سوال و جواب" اولوَلئ او د **الله** د ویرې نه په لړزان شئ!

## د ګناه تعریف

سُوال: د ګناه څه تعریف دے؟ او ګناهِ صغیره او کبیره کوم کوم دي؟

جواب: صدرُ الافاضِل حضرت مولانا سیِّد نعیم الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د پاره 27 د سُوْرَةُالنَّجْم د آیت نمبر 32 د حِصَّې اَلَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ کَبٰٓىِٕرَ الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ ([مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغوئي چې د لویو ګناهونو او بے حیائۍ نه ځان ساتي) نه لاندې فرمائي: ګناه هغه عمل دے چې د هغې کوونکے د عذاب مُستَحِق وي او بعضې اَهلِ عِلم فرمائیلي دي چې ګناه هغه ده چې د هغې کوونکے د ثواب نه محرومه شي، د بعضو قول دے: ناجائزه کار کولو ته ګناه وائي. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۹۷۳) **فَقيهِ** مِلَّت مُفتي جلالُ الدِّین امجدي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: "د یو واجِب یو ځل پریښودل **ګناهِ صغیره** (یعني وړه ګناه) ده په شرط د دې چې بے عُذرِ شرعي وي. لکه یو ځل د نمانځه جَمعه پریښودل یا یو ځل ګِیره خرئیل وغیره. او ګُناهِ صغیره په اِصرار [یعني بیا بیا کولو] ګُناهِ کبیره (یعني غټه ګُناه) شي. د شِرک او کفر او هر حرامِ قَطعي اِرتِکاب کول ګُناهِ کبیره (یعني غټه ګُناه) ده. او یو فرضِ قَطعي لکه د نمانځه، روژې او زکوٰة وغیره نهٔ ادا کول هُم ګُناهِ کبیره ده." وَاللهُ تعالٰی اَعلم. (فَتَاوٰی فیضِ الرسُول، ج۲، ص۵۱۰)

## په ګناهِ صغیره باندې د اِصرار معنٰی

سُوال: "ګُناهِ صغیره په اِصرار ګُناهِ کبیره شي" په دې کښې د اِصرار نه څه مُراد دے؟ جواب: د "اِصرار" معنٰی ده: مضبوط تړل، مضبوطیدل، د چا سره داسې

وابسته کيدل [يعني تَعَلُّق ساتل] چې د هغه نه نۀ شي جُدا کيدلے. (تفسیرِ نعیمی ج٤ ص١٩٣ مُلَخَّصاً) ”په ګُناه باندې د اِصرار کولو“ مُتَعَلِّق مُختلِف اَقوال دي: حضرت عَلَّامه **شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بعضې عُلَمائے کرامو فرمائيلي دي چې د اِصرار حد دا دے چې ګناه بيا بيا اوکړي او په زړه کښې بے باکي (يعني بے خَوفي) **محسوسه** کړي. (اَشِعَّةُ اللّمعات،ج٢، ص٢٥٨) **”فتاوٰی شامي“** کښې دي: د اِصرار حد دا دے چې څوک د ګُناه د پروا کولو نه بغير بيا بيا **صغيره** (يعني واړه ګناهونه) اوکړي. (فَتَاوٰی شامی ج٣، ص٥٢٠) کومه ګُناهِ صغيره ئې چې کړې وي د هغې نه توبه کولو سره د اِصرار نه بهر را اُوځي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: کوم کس چې **اِسْتِغْفار** اوکړو هغه په خپله ګناه اِصرار اونکړو اګر که هغه په ورځ کښې اويا ځله ګُناه اوکړي. (اَبو داؤد ج٢ ص١٢٠ حدیث١٥١٤) حَکيمُ الأُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په باره کښې فرمائي: (دا شرط دے چې) د توبه کولو په وخت کښې ئې د ګناه نه د منع کيدلو (يعني پريښودلو) پوره اِراده وي او که د توبه کولو په وخت کښې ئې هُم دا خيال وي چې **ګناه** به بيا هُم کووم، نو دا توبه نه ده بلکه **(مَعَاذَ الله)** اِسلام پورې **توقي** کول دي. (مِراٰةُ المناجیح ج٣ ص٣٦٤)

# ګناه حلاله ګڼل

سُوال: ګناه حلاله ګڼل څنګه دي؟ جواب: هره صغيره يا کبيره (يعني وړه يا غټه) ګناه حلال ګڼل **کفر** دے هله چې د هغې ګناه کيدل د دلِيلِ قَطعي (يعني آيتِ قرآني يا حديثِ مُتَواتِر يا اِجماعِ اُمَّت) نه ثابت وي، هُم دغسې ګناه سپکه ګڼل هُم **کفر** دے. (منح الروض ص٤٢٣)

اے د اللّٰه پاک د رَحمت طلبګارو اِسلامي وروڼو! **د ايمان د حفاظت** فِکر اوکړئ! **اللّٰه** دې نه کړي که [د چا] په کفر خاتِمه اوشوه نو تباه و برباد به شي. زمونږ بزرګانِ دِين به د ايمان د حفاظت ډير فکر کولو. چنانچه دوه حکايات اوګورئ:

## ﴿۱﴾....... بيا په ژړا شولو (واقعه)

حضرتِ سَيِّدُنا حبيب عَجَمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کوم کس خاتِمه چې په لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (يعني کلمهٔ تَوحِيد) باندې اوشي هغه جَنَّت ته داخليږي. بيا په ژړا شولو او اُوئې فرمائيل: څوک زما د پاره ضمانت ورکوي چې زما خاتِمه به په لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ کيږي. (تَنبِيهُ المُغتَرين ص ١٦١)

## ﴿۲﴾....... يو کس به د جهنم نه زر کاله پس اوځي

حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: مونږ ته دا خبره رارسيدلې ده چې يو کس به يو زر کاله پس د جَهنَّم نه را اُوځي. بيا ئې اوفرمائيل: کاش چې! هغه کس زه وے ځکه چې د جَهنَّم نه د هغه وتل يقيني دي (يعني د هغه په ايمان باندې خاتِمه مُقَرَّره ده) حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عبدُ الوهَّاب شَعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حکايت بيانولو نه پس فرمائي: اے وروره خپل نفس په دُنيوي اُمُورو کښې صرف د ضرورتِ شَرعِيه مطابق مشغول ساته، کيدے شي چې تا ته د غفلت په حالت کښې مرګ راشي، او دغسې ته په دواړو جهانو کښې نقصان سره مخ شې. وَالْعِيَاذُ بِاللّٰهِ تعالٰى (تَنبِيهُ المُغتَرين ص ١٦١) ("کفريه کلمات کے بارے ميں سوال جواب" نه اخستے شوے مضمون ختم شو، بعضې بعضې ځايونو کښې پکښې لږ شان فرق شوے دے)

خدايا برے خاتمے سے بچانا پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم يا الٰهی

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ١١٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ماما اِنفرادي كوشش

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** په خپلو زړونو كښې د جَهنَّم ويره زياتولو او ځان د ګناهونو نه د بچ كولو ذهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِيني تَحريک ''دعوتِ اسلامي'' دِيني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَنـي سپرلے وړاندې كيږي. چنانچه د فيصل آباد پنجاب يو اسلامي ورور به د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول كښې شامليدلو نه مخكښې شپه او ورځ په ګناهونو كښې اخته اوسيدلو، د مور و پلار نافرماني به ئې كوله او هغوئي به ئې خفه كول، خپل ګاونډيان به ترينه تنګ وو، فلمونه او ډرامے كتل او سندرې او سازونه اوريدل د هغه ډيره خوښه مشغله وه، د بدو دوستانو د صُحبت په وجه د شرابو، هيروئنو او نورو مختلفو نشو كښې اخته وو، د هغه ماما د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره تَعَلُّق لرلو هغه چې د ده د دې بدو كارونو نه خبر شو نو ډير يـې پوهه كړلو او په ډيره مِينه مَحبَّت ئې د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډكه اِجتِماع كښې شركت كولو ته تيار كړو او ځان سره ئې اِجتِماع له بوتللو، د اِجتِماع نه پس ئې سمدستي عاشِقانِ رَسُول سره د درې ورځو **مَدَني قَافِله** كښې اوليږلو. د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت په بَرَكت ورته په هغه درې ورځو كښې د اوداسه، غُسل او د نمانځه د طريقې سره سره د ډير څه زده كولو موقع په لاس ورغله، هغه په خپلو ګناهونو پښيمانه شو ا و د توبه كولو توفيق ورنصيب شو او د **عاشِقانِ رَسُول** د حُسنِ اخلاق او ښه سلوک نه ډير مُتأَثِّره شو او سمدستي د 63 ورځو مَدَني تربِيَّتي كورس كولو د پاره **فيضانِ مدينه** ګُجرات (پنجاب) ته روان شو.

بُری صحبتوں سے کَنارہ کَشی کر — کے اچّھوں کے پاس آکے پا دِینی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٦)

پرېږده بد صُحبتونه راشه — د ښو څنګ ته، حاصل کړه دِيني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نمانځه په دوران کښې لږم 40 ټکونه ورکړل (واقعه)

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن مُبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه وړوکے ووم نو ما ته ډير ښه ياد دي چې يوه عبادت ګُزاره ښځه وه، هغې له د نمانځه په حالت کښې لړم څلويښت (40) ټکونه ورکړل خو د هغې په حالت کښې لږ فرق هُم رانغلو. چې کله هغه د نمانځه نه فارِغه شوه نو ما ترينه تپوس اوکړو: مورا! تاسو دا لړم ولې نه لرې کولو؟ هغې جواب راکړو: بچيه! ته لا اوس ماشوم ئې، دا چرته مناسب وو! [ځکه چې] زه خو د خپل رب په کار کښې مشغوله ومه، خپل کار مې څنګه کړے وے؟ (كشف المحجوب ص ٣٣٢)

## پۀ نمانځه کښې سترګې مه پټوئ

د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې رَحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چې کله په تاسو کښې څوک په نمانځه اودريږي نو هغه دې خپلې سترګې نه پټوي. (معجم كبير ج١١ ص٢٩ تحت الحديث١٠٩٥٦)

## په نمانځه کښې سترګې پټول د يهوديانو فعل دے

حضرتِ علامه عبدُالرؤف مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: په نمانځه کښې د مجبورئ نه بغير سترګې بندول مکروهِ تنزيهي دي

ولې چې دا د يهوديانو فِعل (يعني كار) دے البته كه **خُشُوع** ورسره زياتيږي او زړه ورسره حاضر اوسي نو بيا ستركې پټول مكروه نه دي.
(فيض القدير ج١ ص٥٣٠ تحت الحديث ٧٨٥)

## ستركې پټول كله بهتر وي

**بهارِ شريعت** كښې دي: په نمانځه كښې ستركې پټول مكروهِ (تنزيهي) دي، خو چې كله په غړيدلو ستركو **خُشُوع** نه حاصليږي نو بيا پټولو كښې باک نشته، بلكه بهتر دي. (بهارشريعت ج١، ص ٦٣٤)

## نمانځه كښې د اخوا ديخوا كتلو مسئله

په نمانځه كښې په اخوا ديخوا مخ تاوهلو كتل مكروهِ تحريمي (ناجائز او ګناه) ده، كه پوره مخ تاو شوے وي يا بعض (يعني لږ). او كه مخ تاو نه كړي، صرف په ستركو تاوهلو اخوا ديخوا بے حاجته ګوري نو كراهَتِ تنزيهي دے او كه نادِراً په څه صحيح غرض وي نو اصلًا (يعني بالكل) باک نشته، (په نمانځه كښې) نظر آسمان طرف ته پورته كول هُم مكروِ تحرِيمي (يعني ناجائز او ګناه) ده.
(بهارشريعت ج١ص ٦٢٦)

## لكه تهٔ چې اللّٰه وِينې

د بُخاري شريف په يو اُوګد حديث كښې دا هُم دي: حضرتِ جِبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام په باركاه رِسالَت كښې عرض اوكړو چې "**احسان**" څه دے؟ رسولِ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ، فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ يعني (احسان دا دے چې) ته د **اللّٰه** پاک عبادت داسې اوكړې لكه ته چې هغه وِينې، كه ته دا اُونكړے شې نو دا يقين اوساته چې هغه تا وِيني. (بُخاری ج١ ص٣١ حديث٥٠)

## اے ګناه کوونکيه خبردار! اللّٰه وِيني

اے د نمانځه عاشقانو! عِبادت کوونکے دې داسې عبادت کوي لکه [يعني داسې تَصَوُّر دې کوي] چې زه اللّٰه پاک وِينم. دا د اَخَصُّ الْخَواص يعني په خاصو کښې د مخصوصو بندګانو مُقام دے. کاش چې! مونږ ته هُم دا مُقام حاصل شي، ګني دا هُم د سعادت خبره ده چې په نمانځه او عبادت کښې دا تَصَوُّر قائم وي چې اللّٰه پاک ما وِيني! بلکه کاش! چې هر وخت [د بنده] هُم دا خيال قائم وي چې بيشکه اللّٰه پاک هر څه وِيني! يقيناً اللّٰه پاک هر څه وِيني! په هر حال کښې اللّٰه پاک هر څه وِيني! دغسې به دا اِنْ شَآءَاللّٰه د ګناهونو نه د بچ کيدلو ډيره غټه ذريعه وي. په څلورمه سِيپاره کښې د سُوْرَةُالنِّسَآء په وړومبي آيت کښې اِرشادِ رَبَّاني دے: ﴿اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝۱﴾ (پ٤، النساء:١)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بيشکه اللّٰه هر وخت تاسو وِيني.

## "اللّٰه د آسمان نه ګوري" داسې وئيل څنګه دي؟

اے د اللّٰه پاک ويره لرونکو! اللّٰه پاک په هر صورت کښې هر څه ويني! خو بيا هُم دا خبره په ذهن کښې ساتل ضروري دي چې اللّٰه پاک د مکان [يعني ځائے] او طرف نه پاک دے. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِينه د 692 صفحو کتاب، "کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب" صفحه 104 تا 109 کښې دي:

سُوال: بدنګاهي کوونکي ته د ويرولو د پاره دا وئيل څنګه دي چې اللّٰه پاک د آسمان نه ګوري.

**جواب:** نه شي وئيلے ځکه چې دا کفرِيه جُمله ده. **فتاوٰی عالمگیری** جِلد 2 صفحه نمبر 259 کښې دي: ”**اللّٰه** پاک د آسمان نه يا عرش نه ګوري“ داسې وئيل کفر دے. (عالمگیری) خو بد نګاهي کوونکي بلکه هره ګُناه کوونکي ته دا احساس ورکول پکار دي چې ”**اللّٰه پاک هر څه ويني.**“ څنګه چې په ديرشمه سيپاره کښې د **سُوۡرَةُ الۡعَلَق** په څوارلسم آيتِ کريمه کښې اِرشاد کيږي:

اَلَمۡ یَعۡلَمۡ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ﴿۱۴﴾ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: آيا نه پوهيږي چې **اللّٰه** وِيني.

## د زړو حجونو نه بهتر عمل

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** کاش چې! په حقيقي معنو کښې زمونږه په ذِهن کښې هر وخت دا خبره مضبوطه اوسي چې **اللّٰه کريم مونږه وِيني،** که واقعي دا تَصَوُّر مو مضبوط قائم شي نو بيا ګناهونه نه شي کيدے. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **ابو القاسِم قُشَيري** رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: حضرتِ حُصري رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه به فرمائيل: ”يو ځل کښيناستل د زړو حجونو نه بهتر دي.“ د دې يو ځل کښيناستلو نه مُراد هُم دا دي چې ټوله تَوَجُّه راجمع کولو سره خپل ځان د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې حاضر تَصَوُّر کول (يعني چې الله پاک ما وِيني.)

(رِساله قُشیریه ص۳۲۱) د اللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په سترګو کښې به ئې د وور سَلائي وهلے کيږي

**کاش چې!** د نظر د حفاظت عادت مو جوړ شي، يقيناً چې د بدنګاهۍ عذاب به څوک برداشت نه کړے شي. عَلَّامه اِبنِ جَوزي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نقل کوي:

”کوم کس چې د نامحرَمه نه د سترګو حفاظت اونکړو په ورځ د قیامت به د هغه په سترګو کښې د وور سَلائي وهلے کیږي.“ (بَحْرُ الدُّمُوع ص ۱۷۲)

## د سترګو د قُفلِ مدینه یوه مَدَني نُسخه

حضرتِ سَیِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نقل کوي: حضرتِ سَیِّدُنا جُنَید بَغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته چا عرض اوکړو: یا سیِّدي! زه د نظر ښکته ساتلو عادت جوړول غواړم، څه داسې خبره را ته اِرشاد کړئ چې زه ترینه مدد حاصل کړم. هغوئي اُوفرمائیل: دا فِکر قائم ساته چې که زما نظر بل چا ته ګوري د هغې نه مخکښې یو کتونکے (یعني اللّٰه پاک) ما وِیني. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۵، ص۱۲۹) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د نظر ښکته ساتلو بهترینه طریقه

حضرت سیِّدنا حَسَّان بن اَبُو سِنان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اختر د نمانځه د پاره لاړو، چې بیرته ئې کور ته تشریف راوړلو نو ښځې (یعني بي بي صاحبې) ورته اووئیل: نن دې څومره ښځې اولیدلے؟ هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خاموشه وو، چې کله هغې ډیر ځل تپوس اوکړو نو اُوئې فرمائیل: ”د کور نه د وتلو نه واخله بیرته ستا خوا ته راتلو پورې ما (د خپلو ښپو) ګوتو ته کتل.“ (کتابُ الورَع مع موسُوعَہ اِمام اِبنِ ابی الدّنیا ج۱، ص۲۰۵)

سُبحٰنَ اللّٰه د **اللّٰه** والؤ بے ضرورته او خاص طور د ګڼې په وخت کښې د اخوا دیخوا کتلو نه بچ اوسیدل مرحبا، چې هسې نه چرې په ځغه چا مې نظر پریوځي چا ته چې شرعاً د کتلو اِجازت نه وي! حضرتِ سَیِّدُنا **داؤد** طائي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (د پخوانو نیکو بندګانو یو علامت داسې) بیانوي: نیکو خلقو به فضول اخوا دیخوا کتل

ناخوښه ګڼل. (سابِقه حواله ص۲۰٤) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## څوک ګوري خو نه!

حضرتِ سَیِّدُنا فَرقَد سَبخي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: مُنافِق چې کله اُووِيني چې هغه څوک (انسان) نه وِيني نو ګناه اوکړي. افسوس! چې هغه د دې خبرې خو خيال ساتي چې خلق دې هغه اُونه وِيني خو د دې خبرې خيال نه ساتي چې **الله** پاک هر څه وِيني. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۵ ص ۱۳۰)


چھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ — وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے
ارے او مجرمِ بے پروا! دیکھ — سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے

(حدائق بخشش شریف ۱٦۷)

خلقو نه پټ مې ګناهونه کړي — خُدائے خبردار دے راسره څه به کيږي
اے بے پرواه مُجرِمه اوګوره لږ — تُوره په سر ده چې اوس څه به کيږي

(''کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب'' نه اخستے شوے مضمون ختم شو، بعضې بعضې ځايونو کښې مې پکښې لږ شان فرق کړے دے)

د راتلونکې اونۍ مجله




978-969-722-657-3
01082494

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net